دوی زمونږ ځوانان شهیدان او زمونږ میندې بورې کړلې دوی زمونږ بچي یتیمان اوښځي کونډې کړلې زمونږ کورنه یې ونړول او زمونږ باغونه او کروندې وسوځولې او که چیرې د دوی د ظلمونو په وړاندې همداسې چپه خوله پاتي شو، د ظلم دا ناروا سلسله به همداسې دوام ومومي، نو درنوهیواد والو د حل لاره یوه لاره ده دیو انقلابي قیادت ترمشرۍ لاندې راغونډیدل اودښکیلاک ګرپوځ شړل او دلاس پوڅي رژیم ړنګول.

# مشکلات موجوده مریضداران درولایت غور!

آزاد – ۲۱ /۱۱/ ۱۳۹۳

موجودیت چهاربیمار دریک بستردرشفاخانه ولایت غور به یک عادت وفرهنگ تبدیل شده زیرا مریضداران ازسالها بدینسو با این روش دست وپنجه نرم کرده اند.

تعمیرشفاخانه ولایتی غورپنجاه سال قبل اعمارگردیده ومریضداران شکایت دارند که نه تنها عرضه خدمات صحی آن ضعیف است، بلکه وسایل وتجهیزات طبی وتعداد داکتران نیزکفایت نمی کند.

دراین شفاخانه علاوه برمریضان دورترین نقاط ولایت غور، مریضانی از ولایت بادغیس، فاریاب و دایکندی نیز مراجعه مینمایند، مراجعین میگویند که این شفاخانه گنجایش هفتاد بستر را دارد، اما تعداد مریضان داخل بستر دو برابرمیباشد که بیشترآنان را زنان و اطفال تشکیل میدهند.

"بی بی حور" باشنده ولسوالی چهارسده غورگفت طفلش را که به سرخکان مبتلا است به شفاخانه آورده است اما درهرچپرکت چهار الی شش مریض بستر است که واقعا جای تعجب است واین تعجب برمیگردد به مشکلات دولت که دولت بی کفایت به طول چندسال متمادی با توجه به اینکه وعده های زیادی درمورد ایجاد امکانات صحتی و




بهداشتی بهتر در کل کشور ایجاد میکند، را داده است اما متاسفانه که این گفته ها همگی دروغین از آب برآمده و تا حال عملی نشده است، وی گفت که دریک اتاق کوچک ۲۰ تا ۲۵ مریض به سرمیبرد، هوای اتاق بسیارخراب و بدبوی است و مریضی اطفال را بیشترکرده است.

این مادرافزود: جای نشستن برای ما هم نیست، دوا هم نیست و ما از بازار دوا میخریم ای چه قسم شفاخانه است؟ "پری گل" باشنده ولسوالی شهرک گفت که نواسه اش مریض

است و با وی دریک بستر چهارتا پنج مریض بستراست. این خانم علاوه کرد که درولسوالی شهرک خدمات صحی درست عرضه نمیشود وبه همین علت هزاران افغانی مصرف کرده ونواسه خود را به شفاخانه ولایتی آورده است، اما دراینجا عرضه خدمات صحی ضعیف است و به خصوص مشکل بستر نگران کننده است.

داکترجمعه گل یعقوبی رئیس شفاخانه ولایتی غور میگوید که درکل تعمیر شفاخانه یک تعمیر غیرمعیاری برای عرضه خدمات صحی بوده وگنجایش هفتاد بستر را دارد درحالیکه روزانه یکصدوسی مریض بسترمیشود.

وی میگوید که شفاخانه ضمن کمبود داکتر ومتخصص وسایل وتجهیزات طبی که نیاز یک شفاخانه است را ندارد و از همان وسایل وتجهیزات کهنه استفاده میشود.

تشکیل شفاخانه ولایتی غور۱۸۳تن است، که ازجمله، بیست وچهار بست داکتر، ۹ تن موجود است، از جمله ۱۱بست متخصص نیزپنج تن موجود بوده وهمچنان از دوبست فارمیسست یک تن موجود و از پانزده بست تکنیشن ۹ تن موجود است وبقیه این بست ها را کمبود دارد.

نبود خدمات دربخش استخوان، گوش، گلو، بینی وامراض چشم ونبود منبع آب مشکلات دیگری است که تا هنوز پا برجاست.

داکتریعقوبی گفت که تجهیزات طبی و منبع آب در داخل شفاخانه جدید وجود ندارد و در فصل گرمای سال از چاه آب مکتب که درجوار شفاخانه واقع است استفاده میگردد و با شروع فصل سرما جریان آب قطع میشود و عرضه خدمات صحی بدون آب جاری نا ممکن است.

داکترغلام نبی یگانه رئیس صحت عامه غور گفت که آنها مشکلات شفاخانه ولایتی و شفاخانه جدید را با وزارت صحت عامه شریک ساخته و قرار بود که از بودجه اصلاحات شفاخانه وزارت صحت، مصرف امسال شفاخانه جدید بالغ بر ۲۵ ملیون افغانی به غور انتقال شود اما وزارت مالیه موافقه نکرده و این پول انتقال نگردید.

این در حالیست که داکتر فیروزالدین فیروز که به حیث وزیرصحت عامه معرفی گردیده در مراسم معرفی اش توسعه خدمات صحی، بهبود خدمات شفاخانه یی به هدف عرضه بهترخدمات وجلوگیری ازرفتن مردم برای تداوی به خارج ازکشور،مصوونیت دوا و مبارزه با فساد اداری را از اولویت های کاری خود عنوان کرده بود ولی ازآنجائیکه معلوم میشود که همه گفته های شخص موصوف نادرست ازآب برآمده است و تا زمانیکه به چوکی قدرت نرسیده اند از این وعده ها به این مردم مظلوم وستمدیده زیاد داده اما زمانیکه به چوکی قدرت تکیه میزنند دیگرآن وعده هایی که مدتها برای مردم مظلوم و ستمدیده این مرز و بوم داده بودند خبری درکار نیست و مقامات بلندپایه دولتی هم روز به روز به فکر منافع شخصی خود و باداران خارجی شان هستند نه به فکرمردم بدبخت، رنجدیده و ستمدیده این دیار.

کسی نیست که ازاین خائنین وطن فروش پرسان کند که آیا زن و اولاد خودت کدام گاهی مریض نمیشود؟ و یا اگرمریض میشود آنها را به همین جا تداوی میکنی که خودت قول دادی که نیاز به تداوی به خارج ازکشور نخواهد بود یا اینکه زیر وعده خود زده و چون شخص خودفروخته جنایتکاران خارجی هستی و در هرگوشه و کنار هر مملکت جنایتکار امپریالیستی که بادارت است جا داری و با یک مصرف بسیار هنگفت وگزاف تداوی میکنی؟ و یا اینکه تداوی فقط برای قشر ضعیف مردم رنجدیده و ستمدیده این دیار که در این خاک ممکن نیست و چون آنها توان مالی و رفتن به خارج از کشور برای تداوی مریضان خود را ندارند باید مریض خود را قربانی این جنایات هولناک تو و یا بادارانت بکنند؟

بسیارجای شرم است که بگویم این چنین مقامات در راس حکومت قرار دارند و روز به روز مملکت را بفروپاشی بیش از حد سوق میدهند و خودشان با اربابان شان دریک گوشه وکنار نشسته و عیش و نوش خود را میکنند.

هموطن اینجاست که باید من و تو دست به دست هم داده و برای اینکه ریشه این همه بدبختی ها را از بین ببریم نیاز به یک حرکت مستقلانه و آگاهانه داریم و در مقابل این چنین خائنین ملی از هیچ نوع کوششی دریغ نورزیم.

مرگ به رژیم دست نشانده کنونی کشور

زنده باد آزادی

زنده باد استقلال

مرگ به خائنین ملی

پیش به سوی مقاومت ملی ، مردمی و انقلابی

# د ســـنگیـن غـمــــیزه

جاوید۱۴/۱۰/۱۳۹۳

محمداکا د ایمرجنسی روغتون مخامخ دیوال ترخنګ په سپیرو خاورو ناست وه، ډېر ستومانه ښکاریده پرسپینه ږیره یی د خاورو نری پرغز پروت وه مشهدی لونګی یی ال ول په غاړه یی پرته وه د رغتون مخی ته خورا ډیره ګڼه ګوڼه وه، د ټولو په سترګو کی یو پټ غم لیدل کیده، چی ناڅاپه د روغتون دروازه خلاصه شوه.

ځلور نرسانو په لوړ آواز وویل محمد څوک دی؟

محمد اکا په ژغرونی غږ وویل صاحب زه یم.

نرسانو محمد اکا له ځانه سره روغتون ته دننه کړ، د روغتون په انګړ کی د ګلانو په منځ یو کټ ایښي وه دکټ په لیدلو سره یی زړه په ټکان شو، له لړ ځنډ ورسته دوه تنه ډاکټران دروغتون له ودانی را ووتل، یوه شیبه تم شول او بیایی په ټیټ آواز وویل محمد اکا ناوکی دی خپل ژوند تاسوته دروبښه.

د محمد اکا په سترګو توره شپه شوه، اوبی له کوم ځنډه دکټ په لوری یی منډه کړه د جسد له مخ څخه یی سپین څادر لری کړ، هیڅ یی ونه پیژندله ټول مخ یی سوځیدلی وه، په ټنده اوټتربانډی یی دهاوان دګولیوپرخچی لګیدلی وی. د محمد اکا پښیی سستی شوی اوپرڅمکه راپریوت.

تیره ورځ د محمد اکا د کشری زوی واده وه ډېر خوشحاله وو د ریکی کلی ټول کلیوال یی رابللی ول محمد اکا په خپله دسیمی ټولو دولتی پوستو او دریکی کلی لپاره د طالب قومندان سره لیدلی ول او دبلنی ترخنک یی ورته ویلی و چی سبا دکشری زوی واده ده طالب قومندان د مبارکی ترخنک ورته دخپل له لوری دپوره ډاډ ورکړی وه.

ځلور بجی کیدونکی وی چی د محمد اکا دانګړ مخی ته ګلپوش موټر ودرید، ناوی او زوم د میلمنوپه تود هرکلی کی له موټره را کوز شول، زوم ځوانانو له ځانه سره بوته د محمد اکا د انګړپه یوه کنج کی ځوانانو برګ اتڼ اچولی وه په بله برخه کی پیغلوټی نڅیدلی او په خپل منځ کی ټوکی اوټکالی کولی.

هره خواه دخوښی ماحول وه د محمد اکا نوی سپینی جامی اغوستی وی او د ارخچینی خولی په سر یی ابریښیمی لونګی پیچلی وه، اودکلی دسپین ږیروترمنځ ناست وه یو ځوان ورته وویل چی اکا څنګه غلی ناست یی؟ ما خو اوریدیلی ول چی ته ډیرښه آتڼ کوی لکه چی اوس زوړ شوی، محمد اکا موسکی شو اوپه خندا ورته وویل د ملک زو که درپسی پاڅیدم بیابه ځوانی اوزوړتوب درته وښیم! تاغوندی دنباتی غوړیو ځوانان خو اوس هم په یوه لاس چپه کوم که باورنلری میدان ته شه، په دی شیبه کی یوبل سپین ږیری ځوانکی ته په لوړغږ سره وویل د ملک زولکه چی وډار شوی. ناوی یی دمخ رونی دټولو لپاره بهرته را وباستله ټولی ښځی اوپیغلی په ناوی باندی راټولی شوی، او هر چا په خپل وس ناوی ته په پلو کی پیسی اچولی چی ناڅاپه دانګړ له منځه توره لوخړه پورته شوه، هره خوا دچیغو او کریکو آوازنو خپاره شول. په یوه شیبه کی واده په ویربدل شو.

ټوله حویلی په وینو ولړل شوه، هری خواته دښځو اوماشومانو مړی پراته ول، هره خواه داسی انګولا وه چی تا به ویل چی دقیامت ورځ را پیښه شوی ده، هوکی له کوم څه چی محمد اکا ډاریده همغه پیښه رامنځ ته شوه د نوموړی کور د ځلورو دولتی پوستو څخه په غرنی هاوان ویشتل شوی وه.

محمد اکا حیران وچی څه وکړی یوی خواته یی په سرو وینوکی زوی لت پت پروت و، بله خوا دحویلی په منځ کی میرمنه پرته وه، د میرمنی غبرګی پښیی غوځی شوی وی، کله چی ووغوښتل خپله میرمنه له خاورو وچته کړی چی خپلی ټپی ناوی ننګورته یی پام شو، دناوکی د واده سپینی جامی له نیمایی ډیره برخه سوځیدلی وی په ټپی حالت کی دځان دپټولو کوښښ کاوه، محمد اکا لمړی خپل داوړی څادر پری خپورکړ، او په ټپی حالت کی له خاوراواچته کړه اوپه داسی حال کی چی له سترګویی اوښکی روانی وی د روغتون په لور روان شو.

# دازموینی شپه

جاوید۱۳۹۳/۱۲/۱۰

هوا ښکلې وه، نری باد لګیده، نه د ګرمې او نه هم د یخنۍ احساس کیده. د منی ورځې همداسې ښکلې او په زړه پورې هوا لرې، حمزه اکا د بادامو بوجی له شا راکوزه کړه او په لوړ آواز یی وویل .

د رحمان موری چیرته غیبه شوې؟

سر ږمنځوم درځم.

و ښځې زر راشه څه د ادی واده خودې ندی چې بیا دې شړپ اوشړوپ اچلوی دی.

بیامې ولې مړه موریه قبرکې آرامه نه پریږدې دغه ده راغلم سرمې بیخي ځیلۍ شوې وه پوره یومیاشت می نه وو ینځلی.

وړمی دتشناب پرده پورته کړه په داسې حال کې چې د ږمنځې له غاښو څخه یی دخپلو ویښتانو تارونه لرې کول خپل خاوند ته یې په لړزیدلې اوټیټ آواز وویل

سلام درحمان پلاره ستړی مشې په خیرراغلې.

وه ښځې زر یو ګیلاس چای راوړه چې ژبه می په کام کی نښتې ده.

دانګړېه کونج کې اوتنورته نیږدې یو ګټ ایښې وه، ډېرستړی شوی وه او د پرونی خونړی پیښې په اړه یې فکر کاوه په همدې فکر کې وه چې ورمه له تور چایجوش او دوه پیالو سره راغله، دکټ په بله څنډه کیناسته په پیاله کی له تور چایجوش څخه شین چای واچوه دتیکري د څنډې غوټه یې خلاصه کړه او دوه درې خیرنې شیرنې د رحمان د پلار خواته یې ونیولې او په ټیټ آواز یی پوښتنه وکړه سړیه خفه ښکارې خیرت خوبه وی کنه؟

سری ټنډې ته سپیره ورکړه، دچای دپیالی څخه یوغټ غړپ وکړ، او په لوړ آواز یی وویل هی هی درحمان مورې نن مو یو داسې ځوان خاوروته اوسپاره چې دښایست ننداره یی کیدله، سترګې له اوښکو ډکې شوی .

وی،وی څوک وه بیا د چا کور وران شو .

د فاضل کاکا زوی سپین ګل .

وی د ملالې زوی ښيی .

هو

یا الله دا په مونږ باندی دا څه حال دی سم دم قیامت دی، سړیه چا ووژه هغه مورمړی خوله چاسره دښمنی هم نه درلوده.

نور نوڅوک دي، آمریکایانو، پرنګیانو وژلی دی پرون غرمه د سړک د غاړې ماین د امریکایانو په ټانک وچاوده د ځوانی مرګ د پیازو په پټې کې خیشاوه کوله چې آمریکایانو سوری، سوری کړ.

زه وایم خدای دی مورګانې اورته بورې کړئ، څوک چې مونږ ژړوی په کور کې دغم تغر وغوړیږی، د ورمی اوښکی لا وچی نه وی چې، حمزه اکا ورته وویل ریښتا چې هیرمې نشې نن شپه میلمانه لرې.

په ژړغونی آوازیی وویل څوک راځي؟

ولی ته خبره نه یې ؟

نه

نن شپه د رحمان ټولګی وال راځی دشنبې ورځ یې د کانکور ازموینه ده .

وي ریښتا څنګه بیغمه ناسته یمه، ریښتا سړیه کورکې خو هیڅ هم نشته چې پاخه کړم؟

ولې نشته هغه سور کلنګی خوراس به حلال کړو .

نه، نه هغه نه حلالوم هغه می د خپلو چرګو لپاره ساتلی دی.

خیردی بیا درته بل اخلم له خیره سره یوه میاشت ورسته فصل پخیږی بیا دوه خوراسان درته اخلم.

ددې خبرې په اوریدو سره د ورمې په شونډو شنه خندا خیره شوه.

حمزه اکا له ډېرومنډو ورسته خوارس ونیوه، ورمې په نغري کی اوربل کړ ترڅو خوراس شوروا کړې، له څوکلو راهیسې اوبه کمې شوې وی او شولې نه کرل کیدې، حمزه اکاهم په بازار کې د پاکستانیو وریژو د اخیستلو توان نه درلود.

حمزه اکا غواګانو ته واښه اچول چې د کلا لویه دروازه وټکیده، کله چې دروازه خلاصه کړه رحمان له خپلو ملګروسره راننوت، حمزه اکا له میلمنوسره د روغبړ ورسته، رحمان ته وویل چې میلمانه دننه بوزه زه هم راځم.

حمزه اکا د کور په نری لښتی کی چې پاکې اورنې اوبه پکې بهیدلې لاسونه ومنیځل ،کله چې میلمستون ته ننوت رحمان اوملګري درياضي سوالوپه حل ولوباندې بوخت ول،حمزه اکا په لوړ آواز وویل

ځوانانو په خیر راغلي

لکه چې نن شپه هم سبق وایې،بس ده نن شپه کیسې او ساعت تیری وکړئ

دهریکین ترڅنګ یوځوان وویل بلی هو کاکا درس خومو ډیر ویلی دی،مګر افسوس چې حق حقدار ته نه ورکول کیږي!

ولی زویه څنګه حق حقدار ته نه ورکول کیږي ؟

کاکا ته خو خبرېې چې هره پوهنځی ځان ته قیمت لري اوټول پیسه داره خلک خپلو ځامنو ته دخپلي دخوښې پوهنځی په پیسو اخلي او زمونږغونډي غریبانان ناکام پاتي کيږي.

په دی وخت کی یوبل ځوان چې درحمان ترڅنګ ناست وه وویل دهر مملکت واک اورهبري چې پرغلګروهیوادونه په لاس وي ،په هغه هیواد کې به همداسې پردي پال وبې ضمیره چارواکي واکمن وی،په ریښتاچې هم دکانکورپه ازموینوکی هرکال پراخه درغلی کیږي.

دکوټې دروازه نیم کښه شوه حمزه اکا رحمان ته په سترګونغوته(اشاره) وکړه،رحمان په بریچ له ځایه پاڅید ده دروازې ترشا ورمه دچای پتنوس سره ولاړه وه،په ټیټ آواز وویل.

رحمان جانه وګوره چې دادا دی له کوم ځایه درته بادام راوړی ،ښه ډیر وخوره چې ماغزه دی پاسته شی،رحمان موسکی شواو دمور له لاسه یی دچای پتنوس واخیست،رحمان دچای په اچولو باندی بوخت وه چې حمزه اکا دیه ژړه غونی غږ وویل ظالمانو دفاضل کاکا دلاس امسا هم تری واخیسته،په همدی وخت کې درحمان یو ملګري وویل.

کاکاجانه ترځوچې داښکیلاک ګر ځواکونه په داهیواد کې وی مونږبه به بار،بار دی داسې غمجنو پیښو شاهدان ووسو،دوی چې له کومې ورځې زمونږ ګران هیواد اشغال کړي دی له همغه اولی ورځې څخه ، **دوي زمونږ ځوانان شهیدان اوزمونږ میندی بوری کړلې دوی زمونږ بچی یتیمان اوښځې کونډی کړلی زمونږ کورنه یې ونړول اوزمونږباغونواو کروندې وسوځولی ،نن چې رحمان سره راتللم،غازي ماما راته وويل چې په راډیوکی اوریدلی چې شاید نن شپه په کلی کی هوایي عملیات وشي.**

**حمزه اکا دنصوارو قطی را وباسته ،او رحمان ته وویل.**

رحمانه زویه ته لاړشه وګوره چی ډوډۍ تیاره ده کنه زه خو له ولږې مړ شوم.

نغري د هویلۍ په څنډه کې وه،رحمان خپل لاسی څراغ روښانه کړ،اودنغری په لور روان شو،دمور په تور زاړه څادرباندې دایرو سپین پک ناست وو له ځان سره و ډنګیده مور وویل څه خبره ده رحمانه زویه؟

ترڅو چې رحمان ځواب ورکاو، چې یو ناڅاپه درځ شو، د نغري له سره د وریژو ډک دیګی په بل مخ وواښت،دی هویلۍ په بله څنډه کی او نغری ته مخاخ کوټې څخه سره لمبه پورته شوه،رحمان دکوټې په لور منډه کړه لا دنړیدلې کوټې ته نه ورسیدلی چی له شایی یوه سره لمبه راپورته شوه اوپړمخی پرځمکه را پریوته سرېې دهویلۍ په مخ کی په خښې شوی تیګي ولګیده، ،ترڅوشیبوبې غوږو کار نه کاوه ،دشا لمنه یې سوځیدلی وه په ډیر سختی له ځایه پاڅید کله چې دنغری په لور وکتل موریی په سرو لمبو کی سوځیدلی وه، په بله خواه کی سپین ګیری پلاراو ټولګی وال یې دخاورو او لوټوپه منځ کی په وینو کی لت پت پراته ول په همدی حال کی دوه الوتکې دهویلۍ له آسمانه تیری شولی.

# ناورین پسی ناورین

جاوید۱۴/۱۰/۱۳۹۳

تیرماښام دهلمند ولایت د سنګین ولسوالی دسروان کلا دریګی په کلی کی د واده په مراسمو د لاس پوځی پوځ دځلوروپوستو لخوا د غرنی هاوان ګولی ویشتل شوی چی په پایله کی د ناوی په شمول۶۰ولسی وګړی شهیدان اوتر۸۰ زیات کسان ټپیان شوی دی، ویل کیږی چی دوژل شویو ډیره برخه ښځی اوماشومان جوړوی.

د هلمند ولایت د ګوډاګی ولایتی شورا رئیس "محمد کریم اتل" د طلوع نیوز په نامه خصوصی تلویزیون "دیانکی امپریالستانو حنجره" سره په مرکه کی ویلی دی چی دسنګین پیښه په قصدی ډول رامنځ ته شوی او دا کار دیوی پوستی د قومندان له وسه اوتوان وتلی خبره ده، له بلی خوا دمیوند قول اردو مرستیال رسنیو سره په خبروکی په ډیره بی شرمی سره ویلی دی چی د واده د مراسمو ترڅنګ د دوی اوطالبانو ترمنځ جګړه روانه او د دوی عسکرو ولسی وګړی نه بلکه وسلوال طالبان په نښه کړی دی.

دا په داسی حال کی ده چی په همدی ورځې په کابل کی دیرغلګروځواکونه څخه په ظاهری اوڼمایشی بڼه لاس پوځی رژیم پوځ ته د افغانستان دامنیت د لیږد پروګرام روان وه، دافغانستان دلاس پوځی رژیم ګوډاګی پوځ د امنیت د اخیستو په لمړی ورځ سنګین په وینو رنګ کړاو دخپلو بادارانو په پله پل کیښود او د افغانستان دبی ګناه او مظلومو پرګنوپه وژلو سره د فریب نه ډک نقاب پریوت او د دغه لاس پوځی رژیم د مزدوری اردو اصلی او کرغیړنه څیره ولس ته ښکاره شوه.

په افغانستان کی په واده او جنازی باندی خونړی بریدونه کومه نوی خبره نه ده، تردی دمخه هم د ننګرهار په هسکه مینه او د قندهار د شاه ولی کوټ په سیمه باندی یرغلګروځواکونو تندریز بریدونه کړی ول، چی په پایله کی دناوی په شمول په سلګونه د واده ګډون وال په شهادت رسیدلی ول.

په همدی حال کی دسنګین ولایت اوسیدونکو اودشهیدانو وارثینو د لشګرګاه په ولایت کی قهرجن لاریون کړی اودیوی پریکړه لیک په صادرولو سره د لاس پوځی رژیم له مشرانو څخه د خپلو قاتلانو د محکمی غوښتنه کړی ده.

له بلی خواه دسنګین ولسوالی او د پیښی عینی شاهدانو رسنیو ته ویلی دی چی تیره ورځ د وسلوالو طالبانو په یوکمین کی د مزدوری اردو اته تنه سرتیری وژل شوی ول، د شاهدانو په وینا چی لاس پوځی اردو دخپلو ملګرو غچ د واده له بی ګناه ګډون والو څخه واخیست.

د دریم شاه شجاع اود ( CIA ) جاسوس دغلامی په دوران کی زمونږ په زرګونه بی ګناه پرګنی د امریکایی یرغلګرپوځ او د لاس پوځی اردو له خواه په شهادت رسیدلی چی دبیلګی په ډول د دهراود، شینډنډ، چارچینو، سجاوند.....خونړیوپیښی یادولی شوه.

خو د امریکایانو د نوی مامور"اشرف غنی" او د د ملی وحدت په نوم دسهامی شرکت دکار له پیل څخه پرولسی وګړو باندی د یرغلګرو او لاس پوځی رژیم د اردو له خوا بریدنو خورا زور اخیستی چی دبیلګی په ډول دلاندی پیښونه یادونه کولای شو.

۱- دکونړ ولایت په غازی آباد ولسوالی باندی دیرغلګرو ځواکونو له خواه هوایی برید چی په پایله کی شپږ ولسی وګړی شهیدان شول.

۲- د لغمان ولایت دعلیشنګ ولسوالی باندی دیانکی ځواکونو له خواه هوایی برید چی په ترځ کی څلورتنه بی ګناه وګړی ووژل شول.

۳- دپکتیا ولایت د زرمت ولسوالی باندی د بی پیلوټه طیاری توغندیز برید چی په پایله کی د افغانستان ګن شمیر بی ګناه پرګنی په شهادت رسیدلی وی.

۴- د پروان ولایت د غوربند ولسوالی د سیاه ګرد په دره ی باندی هوایی برید چی دنوموړی برید په ترځ کی د مکتب پنځه زده کونکی په شهادت رسیدلی ول.

۵ – د لوګر ولایت دب رکی برک ولسوالی په آب جوش کلی د امریکایی ښکیلاک ګر پوځ هوایی برید چی په پایله کی ترلسو زیات ولسی وګړی په شهادت رسیدلی ول.

۶ - دهلمند ولایت د سنګین ولسوالی د سروان په نوم سیمه کی دریګی کلی د واده په مراسموباندی د مزدوری اردو توغندیز برید چی په پایله کی د ناوی په ګډون تر۶۰ زیات ولسی وګړی شهیدان شول. دا

په داسی حال کی ده چی دلاس پوڅی رژیم مشر او د یانکی امپریالیزم نوی مامور(اشرف غنی) رسنیو، مدنی ټولنی او دمسجد خطیبانو ته اخطار ورکړی چی په هر حالت کی د افغانستان پوځ خخه ملاتړ وکړی او د دوی په اړه مثبت تبلیغات وکړی.

ګرانوهیواد والو!

تاسو شاهد یاست چی په تیرو دیارلس کلو کی زمونږ مظلوم او بی ګناه ولس د یانکی امپریالستانو په مشری د غربی ښکیلاک ګروځواکونو له خوا په بیلابیلو ډولونو ووژل شو څوک یی په حجره کی وواژه اوڅوک یی په کرونده کی، څوک د واده په ورځ شهید شو او څوک هم په هدیره کی په شهادت ورسید.

دوی زمونږ ځوانان شهیدان او زمونږ میندی بوری کړلی دوی زمونږ بچی یتیمان اوښځي کونډی کړلی زمونږ کورنه یی ونړول او زمونږ باغونه او کروندی وسوځولی اوکه چیری د دوی د ظلمونو په وړاندی همداسی چپه خوله پاتی شو، د ظلم دا ناروا سلسله به همداسی دوام ومومی، نو درنو هیواد والو دحل لاره یوه لاره ده  د یو انقلابی قیادت ترمشری لاندی راغونډیدل اودښکیلاک ګرپوځ شړل اود لاس پوڅی رژیم ړنګول.

# تجاوز و اشغالگری فاجعه آمیز سوسیال امپریالیست های شوروی بر افغانستان را یکبار دیگر در سی و پنجمین سالروز آن تقبیح می کنیم!

ششم جدی ۱۳۹۳، سی و پنجمین  سالروز تجاوز نظامی قشون اشغالگر سوسیال امپریالیزم شوروی بر افغانستان است. پس از آنکه منحرفین مدرن روسی در اواسط دهه پنجاه میلادی قدرت سیاسی را در شوروی قبضه کردند، دولت شوروی به یک دولت سوسیال امپریالیستی تغییر ماهیت یافت. حرص و ولع این ابر قدرت سوسیال امپریالیستی بخاطر چنگ انداختن بر بخش ها و مناطق بیشتر در جهان به جولان افتاد و رقابتش با بلوک غرب یعنی امپریالیست های امریکا و متحدین اش رشد فزاینده ای نمود.

سوسیال امپریالیست های شوروی در بین سال های ۱۹۵۶ الی ۱۹۷۸ میلادی بخاطر وابسته ساختن افغانستان به خودشان و همچنان بخاطر پیشبرد رقابت با امپریالیزم امریکا چندین میلیارد دالر کمک های اقتصادی و نظامی را با ربح معین به افغانستان سرازیر نمودند. بر اساس این زمینه سازی، آنها در زمان صدارت داود خان و در همنوایی با داود خان دست به ایجاد حزب دموکراتیک " خلق" افغانستان زدند تا از این طریق مزدوران گوش بفرمانی چون نورمحمد تره کی و ببرک کارمل را تربیه نمایند. سوسیال امپریالیست ها روز بروز به تقویت این حزب نام نهاد از طریق سفارت "شوروی" در افغانستان پرداختند. روس ها و حزب دموکراتیک خلق افغانستان در کودتای سال ۱۳۵۲ داود خان را کمک نمودند که قدرت را بنام سرنگونی سلطنت و اعلام جمهوریت نامنهاد بدست گیرد؛ اما وقتی داود خان چند سال بعد بطرف غرب روی آورد، در سال ۱۳۵۷ علیه وی کودتا کردند و قدرت به صورت مستقیم به باند اجیر و مزدور سوسیال امپریالیزم داده شد. رژیم دست نشاندۀ روس ها سریعاً با مبارزات وسیع در سراسر کشور مواجه گردید. زمانی که این مبارزات وسیع عرصه را بر مزدوران سوسیال امپریالیزم  تنگ نمود، روس ها به تجاوز نظامی اشغالگرانه و عریان بر افغانستان اقدام نمودند، تا هم از مزدوران شان حمایت نمایند و هم از طریق افغانستان خود شان را به آب های گرم بحر هند و منابع طبیعی عظیم خاور میانه نزدیک تر سازند. آنها با حضور نظامی ۱۵۰ هزار نفری اشغالگرانۀ شان در افغانستان، از هیچگونه جنایت و غارتگری علیه مردمان افغانستان دریغ نورزیدند.

رژیم مزدور سوسیال امپریالیزم در اولین روزهای قدرتگیری به دستگیری، زندانی نمودن و اعدام عده کثیری از بهترین فرزندان این مرز و بوم پرداخت و اشغال نظامی افغانستان که با مصیبت ها و دردهای بیشماری همراه شد، خاطرات تلخ و دردناک فراموش ناشدنی را در اذهان توده های ستمدیده این دیار بجا گذاشته است.

پس از بیرون رانده شدن نیروهای اشغالگر سوسیال امپریالیستی از کشور، دوران حاکمیت مجدد فیودالها و جنگسالاران جهادی، دوره اختناق و ترور، دزدی، چپاول، غارت اموال مردم و تجاوز گسترده به زنان و جنگ های خانمانسوز داخلی میان جهادی ها شروع شد. قدرت های امپریالیستی و کشورهای ارتجاعی منطقه با دادن پول و اسلحه به باندهای خاین و وابستۀ خویش هر چه بیشتر آتش این جنگ داخلی را دامن زدند. جنگ های خانمانسوز ارتجاعی داخلی که خود مقدمه چینی ای توسط غربی ها برای اشغال افغانستان بود، زمینه ساز سریع تجاوز نظامی امپریالیست های غربی به رهبری امپریالیزم لجام گسیختۀ امریکا به افغانستان گردید.

بدین ترتیب، جنگ تجاوزکارانۀ سوسیال امپریالیستهای شوروی و ددمنشی مزدوران شان شان، خانه جنگی های ارتجاعی اسلامی به اشکال متفاوت جهادی، طالبی و تهاجم خونین ۴۹ کشور امپریالیستی به رهبری امپریالیزم امریکا، افغانستان را به معنی واقعی کلمه به یک کشور ویران و مخروبه مبدل کرد.

حال که یکبار دیگر کشور عزیز ما افغانستان تحت اشغال قرار دارد و قوای اشغالگر کشورهای امپریالیستی به رهبری امپریالیزم امریکا و رژیم مزدور و دست نشانده شان بر آن حکم میراند، ما برین باوریم که فقط با برپائی و پیشبرد موفقیت آمیز مقاومت ملی مردمی و انقلابی قادر خواهیم شد اشغالگران را از کشور بیرون برانیم، رژیم دست نشانده را از میان برداریم و با ایجاد قدرت ملی مردمی وانقلابی، در مسیر تامین خواست های اساسی ضد امپریالیستی و ضد ارتجاعی توده های مردم به پیش حرکت کنیم.

**به پیش در راه پیشبرد مقاومت ملی مردمی و انقلابی علیه اشغالگران امپریالیست و رژیم پوشالی!**

**«جنبش انقلابـی جوانـان افغانـسـتان»**

**۶ جدی ۱۳۹۳**

# لـه هــــراته تـر نـجـــــرابـه

جاوید -- ۱۳۹۳/۱۰/۱۱

تیره شپه دکاپیسا ولایت دنجراب ولسوالی ته اړوند یو کلی کی اتو تنو سیمه ییزو پولیسوپه یوی دولس کلنی ماشومی انجلی  ډله یز جنسی تیری کړی، د انجلی پلار او خواخوږیی دخپلی لورته د انصاف غوښتلو له پاره پلازمینی کابل ته راغلی دي، د انجلی پلارپه ژغرونی غږ د رسنیوپه مخ کی وویل که چیری تیری کونکی دخپل اعمالوپه سزا ونه رسیږی دی به ځان اوخپله لور ووژنی، دا په داسی حال کی ده چی تیره اونی هم دهرات په ولایت کی د یو روغتون ساتونکو په یوی شل کلنی انجلی چی له خپلی رنځوری مورسره بستری وه ډله یز جنسی تیری کړی وه.

سیمه ییزپولیس ځوک دی اودځه له پاره رامنځ ته شوی؟

سیمه ییزپولیس په افغانستان کی خورا ډیراوږد تاریخ لری ویلی کیږی چی په  په لمړی ځل دا ډول پوځ دلیس صفاری په وخت کی د خوارج سره دجګړی لپاره رامنځته شوی وه، د افغانستان په تاریخ سیمه ییز پولیس په لمړی ځل د سوسیال امپریالیستی ښکیلاک ګرځواکونو له خوا رامنځ ته شول کله چی روسی یرغلګرو او د هغو ګوډاګیانو دافغانستان دیرګنو د وسله وال پاڅون په کابوکولو کی پاتی راغلل نو دافغانستان په کلیو اوبانډوکی د ملیشوپه نوم سمیه ییزځواک جوړکړ، ترڅوخپل دولتی واک پراخ اوپه سیمه کی خپل مخالفین له منځه یوسی د روسانو د اشغال په وخت کی د دغومیلشو مشهورقومندانان په لاندی ډول ول.

۱. عبدالرشید دوستم (د لاس پوڅی رژیم د ولس مشرلمړی مرستیال)

۲. عصمت مسلم

۳. جبارملیشه

هغه وخت دغو ملیشو د روسانو اولاس پوځی رژیم لپاره د افغانستان د پرګنو په وړاندی د پیسو په بدل کی جګړه کوله د افغانستان ولسونه اوپه تیره بیا دکابل ښاریان دهغو میلشو د جنایاتوشاهدان دی.

اوسنی سیمه ییز پولیس د پخوانی ملیشو نوی بڼه ده، په افغانستان کی د سیمه ییز پولیسو دجوړولو طرحه په لمړی ځل  د امریکا ښکیلاک ګرځواکونو قومندان دیویډپتریوس لخواه ورکړل شوه اود دریم شاه شجاع او د ( CIA ) جاسوس د۳۱۹۶ فرمان له مخی په کال ۱۳۸۹کی په رسمی ډول رامنځ ته شول.

## دسیمه ییزپولیسودرامنځ ته کولو لاملونه

کله چی په ۲۰۰۵ کال کی د طالبانو له خواه په افغانستان کی دیانکی امپریالستانو په مشری د غربی هیوادنو په میشتو سرتیرو بریدنو زور واخیست اود افغانستان مزدورپوځ د جګړی په میدان کی خپله ناکامی ثابته کړه نوامریکایان د یو نوی ځواک درامنځ ته کولوپه لټه کی شول.

او د امریکا د ښکیلاک ګر پوځ لپاره ترټولو ارزانه اوسرسپارلی ځواکونه محلی پولیس ښکاره شول، سیمه یزپولیسو له ۱۳۸۹ کال راهیسی تر اوسه لاندی جنایات ترسره کړی.

۱ - دبشرضد جنایات (قتل،جنسی تیری، اختطاف اوباج اخیستل) چی مونږ په دی لیکنه کی ددغو جنایاتو ځو بیلګی تاسوته وړاندی کو.

۱ - په ۱۳۹۲کال دثور  میاشت کی دسیمه ییزو پولیسو دیوقومندان "محمدالله" پوری اړوند یوسیمه ییز پولیس  د لغمان ولایت  د شیرګړپه کلی کی یوبزګر د لفظی شخړی ځخه ورسته په ډزوسره وواژه(بی بی سی).

۲ - په ۱۳۹۲ کال دجوزا په میاشت کی دسیمه ییزپو لیسو یو قومندان هغه وخت د قندوز ولایت دامام صاحب په ولسوالی کی دوبزګر په شهادت ورسول چی نوموړی ته یی دځلورمنه غنموله ورکولو ډډه وکړه.(دآزادی غږراډیو)

۳ - په ۱۳۹۱ کال کی سیمه ییزوپولیسو دقندوز ولایت دخان آباد په ولسوالی کی د یوه پیغلی انجلی سر له جنسی تیری ځخه ورسته غوځ کړ.(دطلوع تلویزیون).

۴ - په ۱۳۹۲ کال کی دی سیمه ییزویوقومندان " دعبدالحکیم شجاعی" له خواه د ارزگان ولایت ۲۱ ملکی وګړی په شهادت ورسیدل.(کابل نیوز).

۵ - په ۱۳۹۳کال کی دهلمند ولایت دنهرسراج ولسوالی د شاخ الکوزو په کلی کی د اخترمحمد د کورنی دری غړی دمحلی پولیسو قومندان " سفرمحمد" وراره له خوا ووژل شول. "دخبریال خبری ویب پاڼه"

۶ - په۱۳۹۳کال کی د ارزګان په ولایت کی دعبدالقدیرپه نوم د محلی پولیسو یوقومندان دوه واکسیناتوران په ډزو ووژل. (پژواک)

دا دهغه زرګونه پیښوڅخه یوڅوبیلګی وی چی مونږ د بیلګی په توګه ذکر کړی، له بلی خواه سمیه ییز پولیس په افغانستان کی دملیتی شخړو او انارشیزم لامل هم شوی دی مګرتر دی دمه هیڅ محلی پولیس د دغوسترو جنایاتو د ترسرکولو په جرم محکمه شوی ندی، لاس پوڅی رژیم، ښکیلاک ګر پوځ او مزدوری رسنی هره ورځ د دغو جنایات کارانو په کټه پراخ تبلیغات کوی او محلی پولیس د ولس ریښتینی او میړینی بچی معرفی کوی حال داچی دافغانستان پرګنی ددوی له لاسه تردی حده په عذاب دی چی د محلی پولیسو څخه دخلاصون لپاره له طالبانو سره همکاری اومرسته کوی. په اوسنی شرایطو کی دا دهر انقلابی ځوان دنده او رسالت دی چی ددغه کرغیړن ځواک اصلی څیره ولس ته روښانه او د دوی جنایات افشا کړی.

# داځل لوګرپه وینو رنګ شو

جاوید۶/۱۰/۱۳۹۳

سهار اته بجی کیدونکی وی راختونکی لمر خپلی زرینی وړانګی پاشلی، کلیوال لا په خپلو کورونو کی ول، دلوګر سهارنی وږمه په کرمیدو وه چی دبرکی برک په شنه آسمان باندی دښکیلاګ ګر پوځ کرغیړنی الوتکی راڅرګندی شوی.

هوکی تیره ورځ بیا د هیواد د مظلومو پرګنو له پاره په غم لړلی ورځ وه تیره ورځ یوځل بیا دهیواد شاه زلمیان دآمریکایی تروریستانو له خوا په وینو ولمبیدل او د وطن مور یی د خپل د بچیانو دغم په ټغر باندی یوځل بیا کینوله، دا په داسی حال کی ده چی دسیاه ګرد دشهیدانو وینی لا ندی وچی شوی، چی د لوګر غمیزه رامنځ ته شوه.

بلی هیواد والو!

تیره ورځ د لوګر ولایت د برکی برک ولسوالی د (آب جوش) کلی د آمریکا هوایی ځواکونو له خوا بمبارد شو، چی په ترڅ کی په لس ګونه ولسی وګړی شهیدان اوټپیان شول دبرکی برک ولسوالی لپاره د لاس پوڅی رژیم ولسوال (رحیم آمین) د برید پخلی کړی او زیاته کړی چی وژل شوی اوټپیان ټول ولسی وګړی دی چی شمیر یی لس تنو ته رسیږی اوټول د یوی کورنی غړی دی.

تیره اونی هم د آمریکا یرغلګرځواک په یو هوایی برید کی د پروان ولایت د غوربند ولسوالی سیاه ګرد په کلی کی۵ تنه زده کونکی په شهادت رسیدلی ول، هغه وخت د آمریکایانو مشهور ګوډاګی او د لاس پوڅی رژیم د پارلمان غړی(عبدالستارخواصی) د قهریدلو پرګنو دآمریکایی ضد احساساتو کابو کولو لپاره د آمریکایانو له خوا په مستقیم امر سیمه ته تللی وه ترڅو د ډاډګیرنی په پلمه ولس د هرځل په څیر وغولوی او د یرغلګر ځواک په وړاندی د ولسی پاڅون مخه ډب کړی نوموړی غلام د شهیدانو کورنی ته په ډیره بی شرمی سره د رسنیو په وړاندی وویل چی ستاسی د شهیدانو د وینو پوښته به هرومرو کوی او تاسوته به له مرکزی دولت څخه د انصاف غوښتنه کوی.

مونږ هغه وخت د خونړی ښپی ترسرلیک لاندی په یوه لیکنه کی ویلی ول چی د مکار خواصی راتګ د ښکیلاک ګر ځواک په دستور ترسره شوی او یواځنی موخه په سیاه ګرد کی د پرتو پرګنو د احتمالی اقدام شنډول او دولس په اور اوبه اچول دی چی کټ مټ هم داسی وشول دسیاه ګرد د پیښه نه کابو یوه میاشت تیریږی خوله هغی ورځی راهیسی هیڅ چا د خواصی په شمول هم دسیاه ګرد دپیښی په اړوند څه ونه ویل، لکه څنګه چی د سیاه ګرد خونړی پیښه هیره شوه د آب جوش واقعه هم غیر له دی کوم بل سرنوشت نلری، داځکه چی د اشرف غنی اوعبدالله په مشری ګډ سهامی شرکت د امنیتی تړون (دهیواد دخرڅلاو سند) په ترڅ کی آمریکایی یرغلګر ځواک ته د افغانستان د بی ګناه پرګنود وژلو صلاحیت ورکړی دی، د دغه تور او له شرمه ډک تړون په بنسټ د افغانستان ګوډاګی او بلواکه رژیم دهیڅ آمریکایی پوځی د محکمی حق نلری. له بلی خواه په تیرو دیارلس کلونو کی دهیواد هر کلی او بانډه د امریکایی یرغلګر پوځ له خواه بمبارد شوی چی په ترڅ کی زمونږ په زرګونه هیوادوال په کی وژل شوی، چی دبیلګی په ډول دڅو زړه بګنوکو پیښو یادونه په لنډه توګه کوو.

۱ دهرات ولایت دشینډنډ په ولسوالی هوایی برید چی په ترڅ کی تر دری سوه زیات ولسی وګړی شهیدان شوی ول.

۲ دقندهار ولایت دشاولی کوټ په ولسوالی کی د جنازی په مراسموبمبارد.

۳ د ننګرهار ولایت دهسکی مینه په سیمه کی د واده په مراسمو باندی هوایی برید چی د ناوی په ګډون ګڼ ولسی خلګ وژل شوی ول.

۴ د لغمان ولایت د علینګار په ولسوالی کی په هغه ښځو بمبارد چی د لرګیو د راوړلو لپاره د کلی غره ته تللی وی.

۵ د لوګر ولایت د سجاوند په سیمه باندی دیرغلګر ځواک خونړی برید چی په ترڅ کی ترسلو زیات لوګریان وژل شوی ول.

د پورتنیو پیښو ترڅنګ د افغانستان په ګوټ ګوټ کی پرولسی خلکو باندی دښکیلاک ګرپوځ له خوا پراخ هوایی اوځمکنی بریدونه شوی چی په هر برید کی زمونږ یوشمیرولسی وګړی شهیدان شوی، له بلی خواپه بګرام، ګوانتانامو او د آمریکا په نورو پټو زندانونو کی په زرګونه افغانان د آمریکایی ځواکونو له خوا سخت شکنجه شوی ( د آمریکایی ځواکونو په زندانوکی د افغانستان د بی ګناه خلکوسره خورا بد سلوک شوی، په دغه زندانونو کی بندیان وهل شوی په سپیانو داړل شوی اوجنسی تیری پری شوی).

خوتر اوسه لاس پوڅي رژیم دی چی د حاکمیت بی شرمانه دعواه لری د یوی پیښی پوښتنه او سپیناوی هم ندی کړی، دا ځکه چی دا رژیم د پوښتنی توان نلری، ځکه چی نوکر اوغلام دی اوهیڅکه هم غلام له خپل بادار څخه د پوښتنی حق او حثیت نلری.

**ګرانو هیواد والو!**

که چیری زمونږ په ګران هیواد افغانستان کی د آمریکا یرغلګرځواک شتون ولری مونږ به د داسی غمیزو شاهدان وسو ( بار بار به د شینډنډ، شاولی کوټ اوسجاوند په ځیرغمیزی به تکرارشی) ځکه چی د امپریالستی ځواکونو خاصیت د ولسونو وژل اوسوځول دی، ترڅوچی دوی شته مونږ به وژل کیږو نو د خلاصون لاره یوه ده د پاڅون او مقاومت لاره مونږ باید د یرغلګر ځواک دشړلو او د لاس پوڅی رژیم د ړنګولو لپاره ملی ولسی اوانقلابی مقاومت پیل کړو.

# انقـــلاب

علم سرخ را باید که بر پا کرد
تا رهانیم ریشه های ظلم و درد
انقلابی سیل خون باید نمود
تا بکاهیم کامِ سرد
تا به کی در عجز و در صید دگر
تا نمایند شرِ شر
تا به کی مشتِ پرِ این ظالمان
تا بریزند زهرِ زهر
تا به کی بر مسند یک بیت باد
تا شکافند مرز و بوم این دیار
تا به کی خون شهیدان در باد
تا بگیرند رمز کار نسل زار
تا به کی پشتون و ازبک گویند
تا فتانند تفرقه!
تا به کی کوچی - هزاره سردهند
تا بسازند هلهله!
بس کنیم، این تفرقه ، این هلهله
بس کنیم این کام سرد سلسله

دست هم گیریم و گردیم متحد

همصدا و هم رکاب ما، همه

خون ما هست نماد رزم ما

عشق میهن، عزم ما و بزم ما

شعله های انقلاب تابنده باد

زنده بادا انقلاب و جزم ما

سیروس

۵ جدی ۱۳۹۳

## کی مـــیرود زخـاطـر خـون روان مـــــردم!

**( بمناسبت قیام توده ئی ۲۴ حوت هرات)**

اعلامیه جنبش انقلابی جوانان افغانستان به صراحت بیان میدارد که : " هر صفحه از تاریخ این کشور، از سبعیت و ددمنشی متجاوزین و اشغالگران بیرونی و جباریت و ستمگری سبعانه حکام بومی و سرگذشت غم انگیز و پر درد و رنج توده های آن حکایت میکند..... "

یکی از صفحات تاریخ کشور، یادآور خیزش توده یی ۲۴ حوت ۱۳۵۷ شهر هرات و روستاهای اطراف آن علیه رژیم کودتای باند وطنفروش "خلق" و پرچم است؛ باند وطنفروشی که پس از کودتای ننگین ۷ ثور، از هیچگونه سرکوب ددمنشانه خونین علیه توده های زحمتکش سرزمین مان دریغ نورزید.

" هرجا ستم است، مقاومت است"، هنگامیکه توده های میلیونی از دست ظلم و استبداد باند وطنفروش " خلق " و پرچم به تنگ آمدند، چاره ای جز دست زدن به خیزش های توده یی بخاطر سرنگونی رژیم مزدور منش نداشتند. مردم هرات پس از چندین روز تدارکات برای برپا نمودن اینگونه خیزش توده یی در روز ۲۴ حوت به جاده ها ریختند و علیه رژیم کودتاگر باند مزدور سوسیال امپریالیزم شوروی دست به قیام زدند. جاده ها، کوچه ها و پس کوچه ها، هر طرف مملو از افرادی بود که با خشم و انزجار با دستان خالی بالای عساکر پسته های حکومت مزدور وقت، حمله ور میشدند. تعداد خیزش کنندگان آنقدر زیاد بود که دشمن سر از پا نمیشناخت و کاملا هراسان شده بود. حتی فرقه ۱۷ هرات ( فرقه عسکری دولتی) از درون



علیه خلقی ها و پرچمی ها شوریدند و فرقه را با زور تصرف شدند. بعد از متلاشی شدن فرقه هرات، رژیم کودتا فقط در قوماندانی امنیه ، محبس و مسجد جامع عمومی محصور ماند و از نیروی هوائی کمک خواست تا بتواند بدین طریق خیزش توده یی را سرکوب کند. دیگر تمامی شهر به تصرف مردم در آمده بود و صرفا همین سه محل ( قوماندانی امنیه ، محبس و مسجد جامع عمومی) به دست عوامل رژیم بود.

رژیم کودتای هفت ثوری طی چند روز متوالی شهر و روستاهای اطراف آنرا توسط طیارات مربوط به قوای هوائی "شوروی" و طیارات مربوطه خودش بمباران نمود. هزاران تن از هموطنان ستمدیده و داغدارمان را داغدارتر نمود و روستانشینان سرزمین مان را بی خانمان ساخت. رژیمی که از آغاز کودتا شعارش " نان، خانه، لباس" بود. اما در عمل خانه هایشان را بمباران نمود، لباس شان را به کفن مبدل کرد و غذایشان را با توپ و تانک و طیارات بمب افگن بخون خودشان رنگین ساخت.

کشته ها به خاک سپرده میشدند، زخمی ها از عرصه کارزار بیرون کشیده میشدند، اما چیزی که دوام می یافت خیزش ۲۴ حوت هرات بود. دشمن زبون که از ددمنشی و خونریزی نتیجه ای نگرفت، پس از سه روز (۷۲ ساعت کنترول مردم بر تمام ارگانها) حیله ای به راه انداخت و به درون قطعات نظامی نفوذ نمود و توسط این حیله توانست به سرکوب قیام ۲۴ حوت هرات دست یابد. از دست دادن مجدد فرقه ۱۷ هرات، ضربه شدیدی به خیزش کنندگان وارد گردید و شکست آنرا رقم زد.

وقتی آفتاب ۲۶ حوت غروب نمود، آفتاب خیزش ۲۴ حوت نیز غروب نمود! این غروب گلگون رنگ شب ها و روزهای خونینی را در پی داشت. دشمن زخم خورده در پی انتقام برآمد و به دستگیری گروه گروه و فوج فوج مردمان هرات اقدام کرد. گروه گروه را به قتل رساند و در گورهای دسته جمعی دفن کرد. حتی به زندانیان رحم نکرد، اکثریت مطلق زندانیان را نیز در گورهای دسته جمعی دفن نمود.

هرچند خیزش به شکست انجامید، اما مقاومت علیه باند کودتا و سپس اشغالگران سفاک و خون آشام سوسیال امپریالیزم شوروی به گونه دیگری ادامه یافت، هرچند اصولی به پیش نرفت و در جهت امیال توده ها سمت و سوی نیافت ولی منجر به بیرون راندن نیروهای اشغالگر از کشور گردید. این یک مقاومت وسیع علیه اشغالگران و حکومت دست نشانده وقت بود که نهایتا منجر به فروپاشی آن گردید.

هنگامیکه سالها بعد، رژیم سرکوبگر و مزدور سوسیال امپریالیزم شوروی و قاتلان چند میلیونی مردمان کشور فروپاشید، " قهرمانان مقاومت" قدرت را از بقایای آن رژیم تحویل گرفتند، خون های ریخته شده میلیون ها هموطن مان به فراموشی سپرده شد و قاتلان شان در بدل تحویلدهی قدرت مورد عفو و "مصالحه ملی" قرار گرفتند، در حالیکه در جریان حکومت ارتجاعی و ضد انسانی آنان، آنچنان جنایاتی به وقوع پیوست که هرگز تاریخ فراموش نخواهد نمود.

همین "قهرمانان جهادی" در نهایت امر خود به ملازمان متجاوزین واشغالگران دیگری مبدل شدند و یکبار دیگر این مرز و بوم و مردمان آن را فاقد استقلال سیاسی و آزادی ملی شان ساختند و کشور را به ۴۹ کشور امپریالیستی تحت رهبری امپریالیزم لجام گسیخته امریکا فروختند. امضاء پیمان امنیتی که در حاکمیت پوشالی فعلی تحت ریاست اشرف غنی ( شاه شجاع چهارم) شکل گرفت، حقانیت این مسئله را به اثبات میرساند.

رژیم پوشالی فعلی که تحت نام "حکومت وحدت ملی" شکل گرفته است، آنقدر فاسد و بی بند و بار است که در طول تقریبا یکسال نتوانسته است حداقل کابینه اش را تشکیل دهد و نه تنها وزارت خانه هایش توسط سرپرست ها اداره میگردد، بلکه هم اکنون ۲۱ ولایت والی، رئیس معارف، رئیس برق، رئیس گمرک و ... ندارد. در تمام ولایات یک هرج و مرج کامل حکمفرماست. حکومتی که از خاینین ملی تشکیل گردد و هیچگونه صلاحیت اجرائی از خود نداشته باشد هرگز قادر به حل معضل اساسی توده های بینوای این سرزمین نخواهد بود.

خیزش ۲۴ حوت هرات بیانگر این مدعاست که مردمان ما در برابر بیگانگان و دست نشاندگان فرومایه اش، هرگز سرتسلیم فرود نمیاورند بلکه به مبارزه مقاومت جویانه شان ادامه میدهند. هراس از مبارزه، تسلیم طلبی و انقیاد ملی را دامن میزند و باید شدیداً علیه آن مبارزه نمود.

ما یقین کامل داریم که مردم مبارز کشور ما، بخصوص مردم مبارز و شهید پرور هرات، هرگز جانباختگان شان را فراموش نخواهند کرد، بلکه طبق درسی که از تاریخ گرفته اند، به مبارزه و مقاومت همه جانبه شان علیه اشغالگران و رژیم پوشالی ادامه خواهند داد و این مبارزه و مقاومت را مبتنی بر مضمون اساسی مقاومت ملی مردمی و انقلابی بصورت همه جانبه پیش خواهند برد.

به پیش در راه برپائی و پیشبرد مقاومت ملی مردمی وانقلابی علیه اشغالگران امپریالیست و خاینین ملی دست نشانده شان

" جنبش انقلابی جوانان افغانستان "

۲۴ حوت ۱۳۹۳

## عناوین مندرج درین شماره :                                  صفحه


### گردهمایی اعتراضی مردم هرات وسیله ای برای امتیاز گیری نیروهای ارتجاعی!




در تظاهرات روز دوشنبه مورخ ۲۷ دلو ۱۳۹۳، که بخاطر افزایش قیمت یک کیلووات برق از ۳،۵ افغانی به ۵،۲۰ افغانی، به راه افتاده بود، حدود صدها نفر شرکت کرده بودند. این تظاهرات از ساعت ۹:۳۰ صبح آغاز و تا ساعت ۱۱:۳۰ قبل از ظهر ادامه داشت.  صفحه (۷)

طلوع تلویزیون دلاسی پوځی اردو رسمی ویاند  په مخه (۸)

رژیم دست نشانده، مسبب تجاوزات گروهی بالای زنان  صفحه (۹)

د نوزاد ویر  په مخه (۱۰)

مشکلات موجوده مریضداران در ولایت غور  صفحه (۱۱)

د سنګین غمیزه  په مخه (۱۳)

دازموینی شپه  په مخه (۱۳)

ناورین پسی ناورین  په مخه (۱۵)

اعلامیه جنبش انقلابی جوانان به مناسبت ششم جدی  صفحه (۱۶)

له هراته تر نجرابه  په مخه (۱۷)

داخل لوګرپه وینو رنګ شو  په مخه (۱۸)

انقلاب (شعری از سیروس)  صفحه (۱۹)

کی میرود زخاطر، خون روان مردم! (بمناسبت قیام توده ئی ۲۴ حوت هرات)  صفحه (۲۰)



## نشانی های جنبش انقلابی جوانان افغانستان

**www.afghanistanrmy.org**

پست الکترونیکی (ایمل) :

**jawanaan@gmail.com**


**قیمت: ۲۰ افغانی**

## سیاست را بر سایر امور مقدم بشماریم

... در وضعیت فلاکتبار و درد انگیز کنونی کشور، جوانان ، به ویژه جوانان متعلق به طبقات و اقشار پائینی جامعه، یکی از آن بخش های جامعه محسوب میشوند که به شدت آسیب می بینند. این نیروی اجتماعی همچون گوشت دم توپ در جنگ تجاوزکارانه امپریالیست ها و دست نشاندگان شان مورد استفاده قرار میگیرد و بخاطر تامین اهداف و مقاصد ضد ملی و ضد مردمی آنان قربان میشود. در افغانستان تحت اشغال و فاقد استقلال ، جوانان کشور در بی سرنوشتی و بی آیندگی فوق العاده شدیدی به سر می برند. بیکاری و فقر، محرومیت از تعلیم و تحصیل ، آوارگی و بی خانمانی عوامل دیگری اند که زندگی پر درد و رنج کنونی جوانان افغانستان را رقم می زنند.

جوانان یکی از بخش های حساس جامعه محسوب میشوند و در مسیر تغییرات و تحولات اجتماعی به سرعت به حرکت در می آیند. آنها حامل نیروی عظیم مبارزاتی اند که اگر آگاهانه با سائر قشرها و طبقات تحتانی و زحمتکش جامعه در آمیزند، تبدیل به انبار باروت آماده به انفجار می شوند و خرمن هستی امپریالیست ها و مرتجعین را به آتش می کشند. بسیج وسیع جوانان در مقاومت ملی ، مردمی وانقلابی یکی از آن وظایف تخطی ناپذیر ملی ، مردمی و انقلابی به شمار می رود که اجرای اصولی آن ، نظام مستعمراتی - نیمه فئودالی حاکم را در معرض نابودی قرار میدهد.

در شرایط امروزی نیاز شدیدی برای برپائی جنبش وسیع ملی ،مردمی وانقلابی جوانان وجود دارد. باید تمامی جویبارهای نارضایتی و خشم آنان به حرکت در آیند و سمت و سوی واحدی بیابند ، تا قوت عظیم مبارزاتی شان در پیوند با کل مقاومت ملی ، مردمی و انقلابی خلق های زحمتکش کشور و به مثابه بخشی از این سیلاب سهمگین ، به حرکت درآید و بر دژهای اشغالگران و دست نشاندگان شان، یورش برد و ویران شان سازد....

**پلاتفرم مبارزاتی**

**جنبش انقلابی جوانان افغانستان**

**( ۱۳ دلو ۱۳۸۴ )**